**په ډیموکراسۍ کې زده کړه یو امتیاز دی، نه حق**




د ۲۰۱۸م د مارچ پر ۵ مه د سند ایالت سترې محکمې په دغه ایالت کې په خصوصي ښوونځیو کې د وروستیو اضافه فیسونو اخیستلو مخه نیولې. په یاد ایالات کې محکمې د حکومت د هغې خبرتیا پر وړاندې چې له پنځه تر لس سلنې به په فیسونو کې جګوالی رامنځته کوي، حکم صادر کړ. د ۲۰۱۷م د ډیسمبر په میاشت کې په یاد ایالت کې په بېلا بېلو ښوونځیو پورې د اړوندو زده کوونکو میندو او پلرونو د سند ایالتي محکمې ته غوښتنلیکونه وړاندې کړل، چې پکې د حکومت د هغه حکم د بېرته اخیستلو غوښتنه شوې وه، چې د فیسونو د ډېرولو په تړاو یې کړي وو. دوی وویل، چې په یوه ښوونیز کال کې باید د ښوونځیو مرکزي اداره له لایحو او مقرراتو سره سم د ښوونځي فیس له ۵ سلنې څخه ډېر جګ نه کړي. همدا راز زیاته یې کړه، چې ځینو ښوونځیو خپل فیسونه له ۱۰ سلنې څخه هم زیات کړي. قضایي هیئت د حکومت له لوري په فیسونو کې جګوالی ناقانونه وباله او یادونه یې وکړه چې حکومت باید یوه داسې پالیسي جوړه کړي، چې پر بنسټ یې د ښوونځیو د فیسونو د جګوالي لپاره یوه قانوني اډانه رامنځته کړي.

د زده کوونکو د میندو او پلرونو شکایتونه تېر کال ان تر سنا مجلس پورې ورسېدل او په تړاو یې یو متقاعد سناتور، ډګروال سید طاهر حسین مشهدي داسې وویل: « حقیقت دا دی چې خصوصي ښوونیز بنسټونه د زورواکو په ولکه کې دي، نو ځکه یې هېڅوک پر وړاندې غبرګون نه شي ښرګندولی. له یوه اړخه که په ایالتي مرکز کې اوسمهال زده کړه په سوداګرۍ بدله شوې او له بله پلوه بیا وزارت په دې تړاو هیڅ ګام نه اخلي». دغه راز هغه

زیاته کړه: « له بده مرغه حکومت خلکو ته د معیاري زده کړو په برابرولو کې پاتې راغلی. د ښوونکو او امکاناتو د کموالي له امله خلک خپل ماشومان حکومتي ښوونځیو ته نه لېږي. که وزارت د حکومتي ښوونځیو په درسي کیفیت کې سمون او ښه والی راولي، نو خلک به په حکومتي ښوونځیو کې د خپلو ماشومانو شاملولو ته زړه ښه کړي».

له زده کړې څخه د ټولنې موخه د وړتیاوو لوړول او د راتلونکي نسل لپاره د شخصیتونو روزل دي. خو پر دې سربېره بیا هم زده کړه خصوصي شوې او د سوداګرو په واک کې ورکړل شوې ده. دا د ډیموکراسۍ اصلي څېره ده او د جاهلانو نظام دی چې پکې د خلکو د زده کړې حق له پامه غورځول کېږي.

اسلامي دولت اړ دی چې د هر کس لپاره لومړنۍ او ثانوي زده کړې برابري کړې. د افرادو زده کړه هغه څه ده، چې دوی په عادي ژوند کې ورته اړتیا لري، زده کړه د دولت له مهمو ګټو څخه شمېرل کېږي، چې خلک د نیکۍ لور ته بلي او له بدۍ څخه یې منع کوي. له همدې امله خلافت باید خپلو ټولو وګړو ته له فیس پرته د اړتیا وړ لومړني او ثانوي ښوونځي چمتو کړي.

پیغمبر صلی الله علیه و سلم د نیول شوو مشرکانو د خوشي کولو فدیه داسې وضع کړې وه، چې دوی به د مسلمانانو لسو ماشومانو ته لیک لوست ور زده کوي. دا د جګړې غنیمت و، چې خلافت د مسلمانانو د ښېګڼې لپاره ترې ګټه اخستله. له دغې کړنې څخه په ډاګه معلومېږي، چې د زده کړې په بدل کې کوم څه نه ورکول کېږي. نو پر همدې بنسټ حزب التحریر د خلافت دستور په ۱۷۸مه ماده کې وایي: « دولت اړ دی چې د هر نارینه او ښځینه لپاره لومړنۍ او ثانوي زده کړې برابرې کړې، چې دهغوی د عادي ژوند لپاره اړینې دي. یادې زده کړې باید له فیس پرته هر کس ته برابري شي او دولت باید د امکان تر بریده د هر کس لپاره له فیس پرته د لوړو زده کړو زمینه هم برابره کړي».

**حزب التحریر-ولایه پاکستان**

**سرچینه: Khilafah.com**

**۱۴۳۹هـق، د جمادي الثاني ۲۰ مه**

**۲۰۱۸م، د مارچ ۹ مه**

**ژباړن: صدیق احمدزی**